قرآني بيان



د خدائے د احکامو د بدلولو وبال

د مذني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ إسلامی) د انتظام د لاندی جوماتونو د پاره

په 30 اکتوبر، کال 2026ء (بمطابق: 18 جمادي الاول، کال 1448ھ)

د جُمعَةُ المبارک

د مَدَنی مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 30 اکتوبر، کال 2026ء (بمطابق: 18 جمادي الاول، کال 1448ھ) د جُمعَۃُ الـمبارک

قرآني بيان

پۀ نوم

د خدائے د احکامو د بدلولو وبال

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د 100 کسانو قاتِل (واقعه)
- د لعنت راوړېدو يو سبب
- پۀ قبر کښې وور لـمبه شو (واقعه)
- خنګه چې مې وښودل، هم هٰغه شان يـې لوله---!!

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)



FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786



GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمہ: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

د دُرُود شریف فضیلت

د اَربعینِ عطّار، قسط: 2، صفحہ: 8، حدیثِ پاک نمبر: 8 دے:

اِذَا اَرَادَ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّسْاَلَ، فَلْيَبْدَاْ بِالصَّلٰوةِ وَالثَّنَاءِ عَلَى اللّٰهِ بِمَا هُوَ اَهْلُهُ، ثُمَّ لِيُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ لِيَسْاَلْ بَعْدُ فَاِنَّهُ اَجْدَرُ اَنْ يَّنْجَحَ

ترجمہ: کله چې په تاسو کښې څوک د دُعا اِراده اوکړي نو هغه له پکار دي چې د الله پاک د شان لائِق د هغه تعریف اوکړي، بیا په نبي صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم باندې دُرُود ولیږي بیا د هغې نه پس دُعا اوکړي دا د دُعا د قبلیدو ډېر لائق دي۔ [1]

دعائیں ہوتی ہیں مقبول اس وسیلے سے | خدا کی خاص عنایت درودِ پاک سے ہے
ازل کے دن سے مرے مصطفےٰ کے چرچے ہیں | تمام دہر پہ رحمت درودِ پاک سے ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي):

وَ اِذْ قُلْنَا ادْخُلُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوْا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَّ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّ قُوْلُوْا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰيٰكُمْ ؕ وَ سَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾

[1] ... معجم کبیر، عبد الله بن مسعود الهذلی، جلد:4، صفحہ:497، حدیث:8692۔

فَبَدَّلَ الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَیْرَ الَّذِیْ قِیْلَ لَهُمْ فَاَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا یَفْسُقُوْنَ۠ (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 58 و 59)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِیْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِیُّ الْكَرِیْم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او چې کله مونږه هغوئ ته ووئیل چې دې ښار ته داخِل شئ، بیا چې په دې کښې چرته غواړئ بے بندېزه یې خورئ او په دروازه کښې د داخلېدو په وخت سجده اوکړئ او ووایئ چې زمونږ ګناهونه دې معاف شي، مونږ به ستاسو خطاګاني اوبخښو، او نزدې ده چې مونږ به نېکي کوونکو ته نور هم زیات ورعطا کړو- بیا هغه ظالمانو کومه چې هغوئ ته وئیلے شوې وه هغه یې په یوه بله خبره بدله کړه نو مونږه په هغه ظالمانو د اسمان نه عذاب را نازل کړو ولې چې هغوئ [پرله پسې] نافرمانۍ کولې-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د آیت مبارک مختصر وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! بني اِسرائیلو جُرم اوکړو، الله پاک او د هغه د نبي حضرت موسیٰ علیہ السلام نافرماني یې اوکړه، د دې په وجه هغوئ په تِیه نومې مېدان کښې قید کړے شول، دا خلق د 40 کالو پورې دلته قید وو، کُهر چاپېره دېوالونه نۀ وو، باړ نۀ وو لګولے شوے، بس دا د الله پاک قُدرت وو چې دې خلقو به خومره هم کوشش کولو، د دې مېدان نه وتلے نۀ شو- اخر د هغوئ دا قید ختم شو او الله پاک هغوئ ته بَیتُ المُقَدَّس ته د تللو حُکم اوکړو- اِرشاد دے:

وَ اِذْ قُلْنَا (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 58)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او چې کله مونږه هغوئ ته ووئیل،

څۀ یې ووئیل:

اُدْخُلُوْا هٰذِهِ الْقَرْیَةَ (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 58)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: چې دې ښار ته داخِل شئ-

یعنې دا یو کلے وو، چرته چې هغوئ ته د تللو حُکم اوکړے شو، کوم کلے وو؟ زیاتره علمائے کرام فرمائي: د دې کلي نه مُراد بَیتُ المُقَدَّس دے۔ [1] دې کلي ته چې لاړ شي نو څۀ کول دي؟ فرمائي:

فَكُلُوْا مِنْهَا حَیْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 58)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بیا چې پۀ دې کښې چرته غواړئ بے بندېزه يې خورئ۔

یعنې پۀ دې کلي کښې ❁ مېوې دي ❁ د اوسېدو اسباب دي، دا ټول ستاسو دي، ښه پۀ سکون سره حلال ځیزونه خورئ! څښئ---!! پۀ سکون اوسئ۔

نور الله پاک پۀ دې کلي کښې د اوسېدو دوه آداب هم هغوئ ته وښودل، فرمائي:

وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 58)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او پۀ دروازه کښې د داخلېدو پۀ وخت سجده اوکړئ۔

وړومبے ادب دے، مطلب دا دے چې کله تاسو بَیتُ المُقَدَّس ته داخِلېږئ نو د کلي چې کومه دروازه ده، پۀ هغه دروازه ټیټ پۀ ادب سره ټېرېږئ۔ یا دا مطلب دے چې هلته ورسېږئ نو د الله پاک پۀ حُضُور کښې سجده اوکړئ۔ [2]

وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 58)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او ووایئ چې زمونږ ګناهونه دې معاف شي۔

یعنې پۀ داسې وئیلو سره ټېرېږئ: اے الله پاکه زمونږه ګناهونه معاف کړې۔ پۀ دې به څۀ وشي؟ فرمائي:

---

[1]... تفسیر طبری، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:58، جلد:1، صفحہ:339، رقم:1001۔

[2]... تفسیر بغوی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:58، جلد:1، صفحہ:53 خلاصۃً۔

نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰيٰكُمْ ؕ وَسَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ۝۵۸

(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 58)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: مونږ به ستاسو خطاګانې اوبخښو، او نزدې ده چې مونږ به نېکي کوونکو ته نور هم زیات ورعطا کړو-

اوس دا پۂ دوئي باندې ډېر لوئي اِنعام وو، د 40 کالو د قېد نه ازادي مېلاؤ شوې وه، کلي ته تلل يې نصيب شول، د ګناهونو د معافۍ ذريعه جوړه شوه او نور دا چې هٰغه کلے چرته چې مخکښې عمالقه قام اوسېدو، بغېر د جنګ، بغېر د خواریٔ کولو، هٰغه ټول کلے فتح شو، بني اِسرائيلو ته حواله کړے شو، د هٰغه ځائے مېوې وغېره د هغوئي د پاره حلالې کړے شوې- دې هر څۂ د پاره کول څۂ دي؟ صِرف دوه کارونه: (1): د کلي دروازې ته پۂ رسېدو سجده کول دي (2): دا وئيل دي: حِطَّةٌ، حِطَّةٌ اے الله پاکه زمونږه ګناهونه اوبخښې- دا دواړه نېک کارونه دي، عبادتونه دي، د بخښنې ذريعه ده- ډېر ګران کارونه هم نۂ وو، اسان وو خو افسوس چې بني اِسرائيلو دا دوه کارونه هم اونکړه، الله پاک فرمائي:

فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِيْ قِيْلَ لَهُمْ

(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 59)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بيا هٰغه ظالمانو کومه چې هغوئي ته وئيلے شوې وه هغه يې پۂ يوه بله خبره بدله کړه-

هغوئي ته حُکم خو شوے وو: ❁ پۂ سجده کولو سره کلي ته داخِلېدل دي، هغوئي څۂ اوکړل: د کوناټو پۂ سر پۂ خوئېدلو کلي ته ننوتل ❁ پۂ دوېم نمبر باندې وئيل وو: حِطَّةٌ اِلٰهی! ګناهونه اوبخښې- هغوئي څۂ ووئيل: حَبَّةٌ فِيْ شَعْرَةٍ، حَبَّةٌ فِيْ شَعْرَةٍ يعني پۂ شخوله کښې دانه، پۂ شخوله کښې دانه- [1]

[1] ... بخاری، کتاب احادیث الانبیاء، صفحه:872، حدیث:3403۔

فَاَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ۝۵۹

(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 59)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو مونږه په هٰغه ظالمانو د اسمان نه عذاب را نازل کړو ولې چې هغوئ [پرله پسې] نافرمانۍ کولې۔

پۂ روایتونو کښې دي: هٰغه وخت پۂ بني اِسرائیلو باندې د طاعُون عذاب راغلو، ناڅاپه پۂ هغوئ کښې د طاعُون وبا خوره شوه او هم پۂ لږ وخت کښې 70 زره اِسرائیلیان مړۂ شول۔ (1)

طاعُون عذاب دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د تاریخ د ټولو نه وړومبے طاعُون وو، کوم چې د بني اِسرائیلو د نافرمانۍ پۂ وجه د عذاب پۂ توګه پۂ هغوئ باندې راغلو۔ **پۂ حدیثِ پاک کښې دي:** بے شکه دا طاعُون یو عذاب دے کوم چې ستاسو نه پۂ مخکښینو خلقو باندې مُسَلَّط کړے شوے وو۔ (2) د مسلمانانو د خوږې مور جانې، حضرت عائِشه صِدّیقه طیبه طاهِره رضی اللہ عنہا نه روایت دے، محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سُلطان صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم فرمائیلي دي: طَاعُون یو عذاب دے، الله پاک چې پۂ چا باندې غواړي دا عذاب رالېږي۔ نور فرمائي: الله پاک د اِیمان والۂ د پاره دا رحمت جوړ کړے دے، یو مؤمِن هم داسې نشته کوم چې پۂ طاعُون کښې وه انښلي، بیا هم پۂ خپل ښار کښې پۂ صبر سره پاتې شي او دا وګني چې الله پاک څۀ لیکلي دي، د هغې نه علاوه هیڅ څوک ما له تکلیف نۀ شي راکولے، داسې مؤمِن بنده ته به د شهید همره ثواب مېلاؤېږي۔ (3)

---

[1]... تفسیر بغوی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:59، جلد:1، صفحہ:54۔

[2]... مسلم، کتاب السلام، باب الطاعون والطیرۃ والکھانۃ ونحوھا، صفحہ:873، حدیث:2218 ملتقطًا۔

[3]... بخاری، کتاب الطب، باب اجر الصابر فی الطاعون، صفحہ:1450، حدیث:5734۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور اوکړئ چې دا هم څومره کرم دے، طاعُون زمونږ نه د مخکښينو خلقو د پاره عذاب وو خو د دواړو جهانو د رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت د دې اُمت د پاره رحمت جوړ کړے شوے دے يعني الله دې نۀ کړي که چرې د يو مسلمان طاعُون شي، بيا هغه په دې باندې صبر اوکړي، په دې حالت کښې مړ شي نو د شهيد همره ثواب به وموي-

یہ لادوا ہے مرض ہمارا، طبیب کیوں کر کریں گے چارہ
علاج میرا کریں گے آقا، طبیبِ دل ہیں، حکیم بھی ہیں
میں اُن کا بندہ، وہ میرے مولیٰ، وہ میرے مالک، میں ان کا بَرْدَہ(غُلام)
خدا کے فضل و کرم سے آقا، حَفِیْظ بھی ہیں، کریم بھی ہیں(1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د برکتي مقاماتو اَدَب کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې ځائے کښې يوه پوښتنه ده: توبه که په هر ځائے کښې اوکړے شي، الله پاک يې اوري، پرې پوهېږي، ويني يې، توبه قبلوي هم- بيا بني اِسرائيلو ته بَيتُ المُقَدَّس ته د تللو، په دروازه د داخلېدو په وخت د ګناهونو د معافۍ غوښتلو او په ښار کښې د اَدَب سره د سر ټيټولو سره د داخلېدو حُکم ولې اوکړے شو؟ د دې جواب مونږ ته د بَل آيت نه معلومېږي، الله پاک اِرشاد فرمائي:

اَلْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِیْ بٰرَكْنَا حَوْلَهٗ
(پارہ:15، سورۂ الاسراء:1)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: مسجد اقصیٰ د کوم نه ګېر چاپېره چې مونږ برکتونه کېښودي دي-

علمائے کرام فرمائي: د مسجدِ اقصیٰ نه ګېر چاپېره (يعني د بَيتُ المُقَدَّس والا کلي) برکت

[1]... قبالۂ بخشش، صفحہ:210209 ملتقطًا۔

دا دے چې دلته د الله پاک د نبیانو علیهم السلام او د ولیانو رحمة الله علیهم مزارونه دي، په کومو باندې چې ورځ او شپه، سحر او ماښام رحمتونه راوروږي۔ (1)

بني اِسرائیل ګنهګاران وو، دوئي پخپله د رحمت لائق نۀ وو، ځکه حکم ورکړے شو چې بَیتُ المُقَدَّس ته لاړ شئ! هلته هسې هم شپه ورځ رحمت راوروږي، هٰغه رحمت به په تاسو باندې هم راشي نو ستاسو دُعا به قبوله کړے شي۔

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د الله پاک د نېکانو بندګانو د مزارونو په خوا کښې، د هغوئي په برکت توبه زر قبلېږي۔ ځکه مونږ له پکار دي چې د انبیائے کرامو علیهم السلام ، د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم او د اولیائے کرامو رحمة الله علیهم مزارونو ته حاضري کوو، مونږ خو ګنهګاران یو، په ګناهونو لړلي شوي یو خو د الله پاک د نېکانو بندګانو مزارونه ډېر پاک ځایونه دي، هلته هر وخت رحمتونه راوروږي، مونږ چې هلته لاړ شو، په راورښودونکي رحمت کښې غوپه شو نو اِنْ شَآءَ الله الْکَرِیم! بنده ببرې به مو روانه شي۔

د 100 کسانو قاتِل

ډېره مشهوره واقعه ده او واقعه هم هٰغه ده کومه چې **په بُخاري شریف کښې ده،** زما خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی الله علیه واله وسلم دا واقعه خپلو صحابۀ کرامو رضی الله عنهم ته بیان کړه، واقعه څۀ ده؟ خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلي دي: په مخکښني اُمتونو کښې یو ګس وو، هغه 99 قتلونه کړي وو۔ بیا هغه پښېمانه شو، په خپلو ګناهونو ستومانه شو، نو د یو دِیني حُلیې والا ګس خوا له لاړو، وه یې وئیل: ما 99 قتلونه کړي دي، آیا زما توبه قبلېدے شي؟

دې صاحِب کېدے شي چې عِلم نۀ لرلو، هغه اِنکار اوکړو چې ستا توبه نشي قبلېدے۔

---

[1]... تفسیرِ قرطبی، پارہ:15، سورۂ اسراء، زیرِ آیت:1، جلد:5، جز:10، صفحہ:133۔

بيا هغه څۀ اوکړل چې مسئله بيانوونکے يې هم قتل کړو- بيا 100 قتلونه پوره شول- بيا پښېمانه شو- بيا د يو عالِمِ دِين پۀ خِدمت کښې حاضر شو، پوښتنه يې اوکړه: ما 100 کسان وژلي دي، آيا زما توبه قبلېدے شي؟ عالِم صاحب ووئيل: آؤ! ستا توبه قبلېدے شي- داسې اوکړه چې فلانکي کلي ته لاړ شه! هلته د الله پاک څۀ نېکان بندګان دي، پۀ عبادت کښې مصروف دي، تۀ هم لاړ شه او د هغوئي سره پۀ عبادت کښې مصروف شه! دے د هٰغه کلي طرف ته روان شو، لا يې څۀ مزل کړے وو چې مړ شو- بيا د عذاب فرښتے هم راغلې او د رحمت فرښتے هم راغلې- د رحمت فرښتے وائي: دے د توبې پۀ اِراده راوتے وو- د عذاب فرښتے وائي چې دۀ لا د اوسه پورې څۀ نېکي نۀ وه کړې- هيڅ فېصله وه نۀ شوه نو الله پاک يوه بله فرښته راولېږله، هغې ووئيل: داسې اوکړئ چې زمکه ناپ کړئ---!! که چرې د دۀ د کور طرف ته فاصله لږه وي نو د عذاب فرښتے دې دے بوځي، که د نېکانو خلقو د کلي طرف ته فاصله کمه وي نو د رحمت فرښتے دې بوځي-

د الله پاک شان ته وګورئ چې رَبِّ رحمان د خپلو نېکانو بندګانو شان واضحه کوي- هٰغه د زمکې حصه کومه چې د کور طرف ته وه، الله پاک هغې ته حُکم اوکړو: تۀ خورۀ شه- د نېکانو د کلي طرف ته چې کومه حصه وه، هغې ته يې وفرمائيل: تۀ راټوله شه- نو کله چې فرښتو ناپ کړه نو هغه د نېکانو خلقو د کلي طرف ته يوه لوښت نزدې وه، بس هٰغه اِنسان اوبخښلے شو او د هغه رُوح د رحمت فرښتو د ځان سره يورلو- [1]

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے د الله والؤ---!! ❁ د دوئي پۀ برکت دعاګاني قبلېږي ❁ د دوئي پۀ وسيله د توبې توفيق نصيب کېږي ❁ د دوئي پۀ برکت ګنهګاران هم د رحمت حقدار جوړېږي-

---

[1]... بخاری، کتاب احادیث الانبیاء، صفحہ: 891، حدیث: 3470 مفصلاً۔

الله پاک خو د ټولو اوري

بعضې وخت خلق وائي: الله پاک خو د ټولو اوري، په هر ځائے کښې يې اوري، بيا تاسو دربارونو ته ولې ځئ او غواړئ--؟ د داسې خلقو په خِدمت کښې عرض دے چې الله پاک خو په هر ځائے کښې اوري، توبه چې کله هغه قبلوي نو که په هر ځائے کښې توبه وکړے شي، هغه يې قبلولے شي، بيا هغه بني اِسرائيلو ته بَيتُ المُقَدَّس ته د تللو، د هغې د ادب کولو، هلته په دروازه د تهربدو په وخت د ګناهونو د معافۍ غوښتو حُکم ولې اوکړو؟ خبره په اصل کښې دا ده چې الله پاک د ټولو اوري خو مني د ټولو نۀ- **په بُخاري شريف کښې حديثِ قُدسي دے**، الله پاک د خپلو وليانو شان بيانوي او فرمائي: وَاِنْ سَاَلَنِیْ لَاُعْطِیَنَّهٗ که چرې زما ولي زما نه څۀ وغواړي نو زۀ يې ضرور بِالضَّرور هغه ته عطا کووم وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِیْ لَاُعِیْذَنَّهٗ که هغه زما سره پناه غواړي نو زۀ ضرور هغه ته پناه عطا کووم- [1]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې الله پاک د ټولو اوري خو د وليانو سره وعده ده چې کله هغوئ غواړي نو الله پاک هغوئ ته ضرور عطا کوي، کله چې دوئ د الله پاک نه پناه غواړي نو رَبِّ کريم هغوئ ته پناه عطا کوي- ځکه مونږ د نېکانو خلقو په خِدمت کښې حاضريږو او غواړو، په هغوئ باندې دُعاګانې کوو، د هغوئ وسيله پېش کوو، د دې ظاهرولو د پاره چې يا الله پاکه! زۀ خو ستا د دربار لائق نۀ يم، د دې نېک اِنسان په وسيله زما خواست قبول کړې-

د برکت والا هِندوانه

علامه اِمام اِبنِ جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي: په بغداد شريف کښې 10 هلکان وو، ټول په خپل مينځ کښې دوستان وو، او د ټولو په سترګو باندې د غفلت پرده راخوره شوې وه، شپه ورځ

---

[1]... بخاری، کتاب الرقاق، باب التواضع، صفحه:1597، حدیث:6502۔

بس پۀ ګناهونو کښې مصروف اوسېدل، یو ځل دوئي خپل یو دوست بازار ته د ځۀ اخستو د پاره ولېږلو، هغه پۀ راتللو کښې ډېر ناوخته کړو- ډېر وخت پس هغه پۀ لاس کښې هِندوانه نیولې وه او پۀ خندا خندا راروان وو، نورو دوستانو له یې ډېره غصه ورغله، چې یو خو تۀ ناوخته راغلې او بل دې راوړي ځۀ دي---؟ دا هندوانه---؟

هٰغه هلک ووئیل: ما ډېر عجیبه څیز راوړے دے، دا چې کومه هندوانه ده، پۀ دې باندې حضرت بشر حافِي رحمۃ اللہ علیہ لاس مبارک ایښودے وو، ځکه ما دا پۀ 20 دِیناره [یعنې د سرو زرو پۀ سِکو] واخستله او را مې ورله، چې څنګه یې دوستانو دا خبره واورېدله نو ټولو پۀ ادب سره د هندوانې ښکلول شروع کړل- لا یې د دې عقیدت او محبت اِظهار کولو چې یو هلک ووئیل: اے دوستانو---!! تاسو ټول ګواه اوسئ چې زۀ د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه کووم- پۀ دې اورېدو باقي نورو دوستانو هم توبه کړه او دا لس واړه هلکان پۀ عبادت او ریاضت کښې مصروفه شول- [1]

سُبْحٰنَ اللہ! اندازه ولګوئ چې د ولیانو د لاس د لګیدلې ځیزونو دا برکت دے، حضرت بِشر حَافِي رحمۃ اللہ علیہ هٰغه هندوانې له صرف لاس ورورې وو، هلکانو د هغې ادب اوکړو نو د توبې توفیق یې نصیب شو ❁ چرته چې دا وَلِیان، د الله پاک نېکان پخپله موجود وي ❁ چرته چې د دوئي مزارونه وي، اِنسان هلته لاړ شي، د هغوئي د ښار عزت اوکړي، د هغوئي سره د نسبت لرونکو ځیزونو عزت اوکړي، پۀ هغه باندې به ولې کرم نۀ کېږي؟ اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! د الله پاک رحمت به ضرور راورېږي او د دُنیا سره سره به اخرت هم ښه کېږي-

الله پاک دې زمونږه هم د نېکانو خلقو، د نبیانو علیہم السلام، د ولیانو رحمۃ اللہ علیہم ، د صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم او اهلِ بیتِ پاک رضی اللہ عنہم ادب او اِحترام کوونکي جوړ کړي او د هغوئي

---

[1]... عیون الحکایات، صفحہ:340۔

د تبرکاتو نه د فیض حاصلولو توفیق رانصیب کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د خُدائے د حکمومو بدلولو وبال

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله پاک فرمائي:

فَبَدَّلَ الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَیْرَ الَّذِیْ قِیْلَ لَهُمْ فَاَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا یَفْسُقُوْنَ۠ ﴿۵۹﴾

(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 59)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بیا هٰغه ظالِـمانو کومه چې هغوئي ته وئیلے شوې وه هغه یـې پۀ یوه بله خبره بدله کړه نو مونږه پۀ هٰغه ظالِـمانو د اسمان نه عذاب را نازل کړو ولې چې هغوئي [پرله پسې] نافرمانۍ کولې-

د دې ځائے نه معلومه شوه چې د الله پاک حکمونه چې څنګه دي هم هٰغه شان (**As it is**) منل ضروري دي، کوم خلق چې د الله پاک حُکمونه بدلوي، هغوئي د الله پاک د عذاب حقدار جوړېږي- ځکه پۀ مونږ باندې لازم دي چې الله پاک، د هغه خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کوم حُکم څنګه راکړے دے، هم هٰغه شان یـې اومنو او پۀ هغې باندې عمل اوکړو-

د لعنت ورېدو یو سبب

پۀ قرآنِ کریم کښې دي چې الله پاک پۀ بني اِسرائیلو لعنت نازل کړو، د دې اسباب څۀ وو؟ فرمائي:

يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ

(پاره:6، سورۂ مَائدہ:13)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: هغوئي د الله خبرې د خپلو مقاماتو نه بدلوي او هغوئي د هٰغو نصيحتونو لويه حصه هېره کړه کوم چې هغوئي ته شوي وو-

يعني په بني اِسرائيلو د لعنت ورېدو په ډېرو اسبابو کښې دوه اسباب دا هم دي: (1): دوئي به د الله پاک حُکمونه بدلول (2): کوم حُکم چې به ورکړے کېدو، په هغې باندې به يې عمل پرېښودو-

معلومه شوه چې د الله پاک حکمونه بدلول د الله پاک د رحمت نه د لرې کېدو او د لعنت راورېدو وجه ده-

د خُدائے د حُکمونو بدلولو يو څو مثالونه

آه! افسوس چې نن سبا دلته هم دا انداز د خلقو روان دے جوړېږي چې د الله پاک په حُکمونو باندې د خپلو خواهشاتو مطابق عمل کوي- يعني د خپلې خوښې مطابق پکښې بدلون او کمے زياتے کوي- مثلاً ❁ حُکم وو چې د غېر مسلمو سره دوستي مۀ کوئ! دلته هم د هغوئي په نقشِ قدم خلق ځي، د هغوئي سره د محبت اِظهار کوي، د هغوئي سره دوستي کوي ❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږ نعتونه ويونکي، نعتونه اورېدونکي يو، په قرآن او حديث کښې د نعت خوانۍ فضيلتونه بيان شوي دي، ډېر عظيم فضيلتونه دي خو نن سبا خلقو په دې نېک کار کښې هم ملاوتونه شروع کړي دي، مېوزک، دَف او پته نۀ لګي چې څۀ څۀ ورسره مېلاوهي او نعتونه وائي، اوس نعت اورېدل خو عبادت دے خو دا مېوزک کوم چې ورسره مېلاؤ کړے شوے دے، دا ګناه ده ❁ **علامه اِبنِ جوزي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **ليکلي دي**: شېطان د پيرانو فقيرانو په باره کښې هم خلقو له دوکه ورکوي، [1] د پير فقير، د

[1]... تلبيس ابليس، الباب الثانی عشر، فصل مخالفتهم العلماء وتقديمهم ...الخ، صفحه:469 خلاصةً۔

الله والا، د نېک بنده، د اولیائے کرامو ډېر اوچت شان وي او دوئي په جوماتونو کښې مېلاؤېږي، په عبادتونو کولو مېلاؤېږي، په نـمونځونو کولو مېلاؤېږي، روژې نیسي، عِلم دِین زده کوي نورو ته یـې ښائي خو خلقو څهٔ ذِهن جوړ کړے؟ د چا وېښته چې ډېر لوئي وي، شلېدلې جامې یـې اغوستې وي، که د جومات په خوا هم نهٔ ورځي، د نـمونځونو په وخت ګپونه لګوي، نـمونځ له نهٔ راځي، خلق هغه ډېر رسېدلے ګڼي، الله! الله! دا هٰغه خلق نهٔ دي شریعت چې د کومو د ادب او اِحترام کولو حکم کړے دے، الله والا خو د الله پاک په یاد کښې مصروفه مېلاؤېږي ❁ دغه شان شریعت حُکم راکړے وو چې ږیرې اوږدې کړئ! برېتونه واړه کړئ! [1] دلته خلق په ږیرو کښې قِسما قِسم ډیزائنونه جوړوي، وړې وړې، نیمې پوره ږیرې پرېږدي، هر خوا فېشن دے، ږیره هم وائي (لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه)، ږیره خرېل هم حرام دي، د یو موټي نه کمول هم حرام دي۔ [2] شریعت چې څهٔ حُکم اوکړو، هغه پوره پوره منئ، هم هٰغسې یـې منئ لکه څنګه چې حُکم راکړے شوے دے ❁ الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا۝۱۰۳ (پارہ:5، سورۂ نساء:103)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بے شکه نـمونځ په مسلمانانو باندې په مقرره وخت کښې فرض دے۔

شریعت د نـمونځونو وختونه ټاکلي دي، د هر یو نـمونځ ېبل ېبل وخت او حساب یـې ښودلے دے، ځینې خلق څهٔ کوي؟ دوه دوه نـمونځونه یو ځائے کوي ، د ماسپښین نـمونځ قصداً عمداً پرېږدي او وائي چې څه د مازیګر او د ماسپښین نـمونځ به په یو ځائے اوکړم، د مابنام نـمونځ قصداً عمداً پرېږدي چې د ماسخوتن سره به یـې اوکړم، بیا داسې هم نهٔ

---

[1]... بخاری، کتاب اللباس، باب تقلیم الاظفار، صفحه:1480، حدیث:5892 خلاصةً۔

[2]... بهارِ شریعت، جلد:3، حصه:16، صفحه:585۔

ده چې د ماسپښين نـمونځ په خپل وخت باندې نه وو شوے نو دا قضا راوګرځوي ---!! نا، نا---!! د ادا کولو په نيت سره يـې کوي-

د جنګ په حالت کښې هم د نـمونځ اهميت

يو ځل د جنګ موقع وه، غېر مسلمو په خپل مينځ کښې سازش جوړ کړو چې د مازيګر وخت کېدونکے دے، د مسلمانانو نـمونځ ډېر خوښ دے، هغوئ به نـمونځ کوي، هٰغه وخت به په هغوئ باندې حمله اوکړو- دا هغوئ سازش اوکړو، دلته الله پاک حضرت جبريل امين عَلَيْهِ السَّلَام راولېږلو، د پينځمې سيپارې آيتونه نازل شول، په دې کښې الله پاک د وېرې د نـمونځ [نماز خوف] پوره طريقه وښودله چې کله داسې معامله راشي نو هٰغه وخت په دوو ډلو کښې تقسيم شئ! يوه ډله په جَمعه ودرېږئ، د اِمام سره يو رکعت اوکړئ، دوېمه ډله د دښمن مقابله کوئ، بيا دې وړومبۍ ډله د دښمن مقابلې له راشي او دوېمه دې د اِمام سره په جَمعه کښې شامله شي، [1] دا يوه پوره طريقه ده کومه چې په قرآنِ کريم کښې په تفصيل سره بيان کړے شوه، د دې ځائے نه تاسو اندازه ولګوئ چې نـمونځ په خپل وخت کښې دننه کول څومره ضروري دي- د جنګ په حالت کښې هم د ماسپښين او د مازيګر يا د مابنام او د ماسخوتن د نـمونځونو په يو ځائے کولو اِجازت نشته-

د وخت تيريدو نه پس د نـمونځ کولو وبال

الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ (پاره:16، سورۂ مريم:59)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو د هغوئ نه پس هٰغه نالائقه خلق د هغوئ په ځائے راغلل کومو چې نـمونځونه ضائع کړل-

[1]... مسند ابي يعلىٰ، ابو عياش الزرقي، جلد:2، صفحه:683، حديث:1444 خلاصةً-

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ د دې آیت پۀ تفسیر کښې فرمائي: د دې معنیٰ دا نۀ ده چې هٰغه خلقو به د سره نـمونځ نۀ کولو بلکې معنیٰ دا ده چې هٰغه خلقو به نـمونځونه پۀ وخت نۀ کول۔ [1]

پۀ قبر کښې وور لـمبه شو

اِمام اِبنِ اَبي دُنيا ليکلي دي چې: يو صاحب وو، د هغه خور وفات شوه کله چې يـې هغه ښخوله نو د هغه بټوه پۀ کومه کښې چې څۀ پېسې وغېره وې هغه قبر ته پرېوتله، د ښخولو نه د واپس راتللو پورې هغه د هغې نه خبر نۀ وو، کله چې واپس راغلو نو هغه ته وريادشول، هغه د هغې قبر له لاړو او د خلقو د تللو نه پس يـې قبر راکنستل شروع کړل، هغه پۀ قبر کښې د وور لـمبې وليدې نو خاوره يـې پرې ور واچوله او پۀ ژړا ژړا د خپلې مور خوا له راغلو او وه يـې وئيل: مور جانې! ما ته زما د خور پۀ باره کښې ووايۀ چې هغې به داسې څۀ عمل کولو؟ مور يـې ووئيل: تۀ د هغې پۀ باره کښې د څۀ نه ځان خبرول غواړې؟ هغه ووئيل: مور جانې ما د هغې پۀ قبر کښې وور ليدلے دے۔ پۀ دې اورېدو هغه هم پۀ ژړا شوه او وه يـې وئيل: ځويه! ستا خور به پۀ نـمونځونو کښې ناراستي کوله او هغه به يـې د وخت تېريدونه پس کولو۔ [2]

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا دے پۀ خپل وخت د نـمونځ نۀ کولو وبال--!! الله پاک دې مونږ له د پېښځه واړو نـمونځونو پۀ خپل وخت کښې دننه بلکې پۀ جومات کښې د جَمعې او تکبيرِ اُولیٰ سره د کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1]... تفسیر درمنثور، پارہ:16، سورۂ مریم، زیرِ آیت:59، جلد:5، صفحہ:526۔

[2]... موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتاب القبور، جامع ذکر القبور، جلد:6، صفحہ:75، حدیث:97۔

تالا به هم پۀ 4 غاښونو کولاويږي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اوراد او وظيفې چې کومې وي، پۀ حديثونو کښې چې کومې دعاګانې ليکلے شوې دي، پۀ هغې کښې هم د خپله ځانه بدلون نۀ دي کول پکار! پۀ دلائِلُ الخيرات شريف کوم چې د درودِ پاک ډېر مشهور کتاب دے، پۀ دې کښې يو درودِ پاک ليکلے شوے دے، کوم چې 14 کرته وئيل وي- يو ځل د شاه عبد الحق اِلٰه آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه د هغوئي شاګرد پوښتنه اوکړه: عالي جاه! دا درودِ پاک مونږ 15 کرته ولې نۀ لولو،خوامخا 14 کرته ولې لوستل دي؟ وه يې فرمائيل: کومه تالا چې د 4 غاښونو پۀ کُنجۍ کولاويږي ، هغه د 5 غاښونو پۀ کُنجۍ نه کولاويږي، مونږ چې دا درود شريف 15 کرته لولو نو د ثواب کار دے خو هٰغه دروازه کومه چې د دې درود پۀ برکت سره کولاويږي ، هغه به هله کولاويږي کله چې يې 14 کرته ولولو- [1]

دا خبره هم ده، مونږ پۀ خپله خوښه کمے زياتے اوکړو او ګڼو چې پۀ دې کښې ثواب ډېر دے خو د شريعت حِکمت زمونږ د دروغژن عقل نه ډېر اوچت دے، ځکه چې څۀ وئيلے شوي دي، څومره وئيلے شوي دي، څنګه وئيلے شوي دي، هم هغه، هٰغه همره او هم هٰغه شان به کوو-

څنګه چې مې وښودل، هم هٰغه شان يې لوله---!!

پۀ مُسلم شريف کښې روايت دے، يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت بَرَاء بن عازِب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د اودۀ کېدو د وخت يوه دعا ياده کړه، پۀ هغې کښې وو: اٰمَنْتُ بِنَبِيِّكَ الَّذِیْ اَرْسَلْتَ (ما اِيمان راوړو ستا پۀ نبي باندې کوم چې تا رالېږلے)- حضرت بَرَاء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما دا دُعا د دوباره لوستلو پۀ وخت ووئيل : اٰمَنْتُ بِرَسُوْلِكَ الَّذِیْ اَرْسَلْتَ (يعنې

---

[1] ... تفسير نعيمی، پاره:1، سورۀ بقرة، زيرِ آيت:59، جلد:1، صفحه:416۔

ما اِیمان راوړو ستا پۀ رسول باندې کوم چې تا رالېږلے)۔

یعنې د نبي لفظ پۀ ځائے یې رسول ولوستو، اوس وګورئ چې پۀ نبي او رسول لفظ کښې ډېر فرق خو نشته، عام طور هم پۀ یوه معنیٰ کښې اِستعمالېږي خو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم منع کړو، وه یې فرمائیل: هٰغه لفظ ولوله کوم چې ما در ښودلے دے، ووایه: اٰمَنْتُ بِنَبِیِّكَ الَّذِیْ اَرْسَلْتَ۔[1]

معلومه شوه چې شریعت کومې دُعاګانې مونږ ته ښودلې دي، څنګه یې ښودلې دي، هم هٰغه شان لوستل دي۔ مثلاً د نمونځ پۀ رکوع کښې لوستلے کېږي: سُبْحٰنَ رَبِّیَ الْعَظِیْم۔ پۀ سجده کښې لوستلے کېږي: سُبْحٰنَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی۔ مونږ که چرې ووایو چې د دواړو معنیٰ خو یو شان ده، پۀ رکوع کښې به سُبْحٰنَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی ووایم او پۀ سجده کښې به سُبْحٰنَ رَبِّیَ الْعَظِیْم ووایم نو دا صحیح نۀ دي، د سُنَّت خِلاف دي۔ آؤ! که چرې کله نا کله پۀ هېره داسې وشو نو نمونځ به ادا شي، هیڅ فرق نۀ راځي خو د دې عادت جوړول، قصداً او پۀ اِرادې سره داسې کول صحیح نۀ دي۔

د شبهاتو نه بچ اوسئ---!

یو ډېر اهم حدیثِ پاک واورئ! دا حدیثِ پاک زړۀ ته کوزول پکار دي، د بُخاري شریف حدیث دے، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اَلْحَلَالُ بَیِّن حلال واضحه دي، وَالْحَرَامُ بَیِّن حرام هم واضحه دي (یعنې د حلالو او حرامو حُکمونه شریعت واضحه بیان کړي دي) وَبَیْنَهُمَا اُمُوْرٌ مُّشْتَبِهَاتٌ د دې دواړو ترمینځه د شک والا امور دي، د کومو چې اکثرو خلقو ته پته نشته۔ بس څوک چې د شبهاتو نه بچ شو، هغه خپل دِین بچ کړو او څوک چې پۀ شُبهاتو کښې پرېوتو، هغه به پۀ حرامو کښې پرېوځي۔

---

[1]... مسلم کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار، باب ما یقول عند النوم ...الخ، صفحه:1043، حدیث:2710۔

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې خبره باندې په يو مثال سره پوهه کړو: د دې مثال د شپونکي او د ورشو [چراه ګاه] په شان دے (لکه څنګه چې دلته پتې وي، د هغې ترمينځه عام طور دېوالونه نۀ وي، وړه شان پوله وي، ټول پتې د يو بل په خوا کښې وي، اوس که چرې څوک چېلۍ په خپل پتې کښې خَروي، چېلۍ د هُغه پولې خوا له لاړې شي، شپونکے بيا هم هغه منع نۀ کړي نو چېلۍ خو چېلۍ دي، هيڅ پته نۀ لګي چې د بَل پتې ته واوړي، د شپونکي د ور رسېدو پورې به هغوئ ډېر نقصان کړے وي)- فرمائي: بس هم دغه شان د بادشاه څۀ حدونه وي، د الله پاک حدونه د هغه حرام کړے شوي څيزونه دي-[1]

د څومره ښکلي مثال په ذريعه خبره واضحه کړے شوې ده- دا حديثِ پاک په خپل ذِهن کښې ساتئ او خپل پوخ ذِهن جوړ کړئ چې مونږ له په شريعت باندې عمل کول دي او د حدودو کښې دننه کول دي، د دې نه بهر وتل نۀ دي- الله پاک دې د عمل کولو توفيق را عطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د نـمونځونو د وختونو د ايپلي کېشن تعارف

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډېر ښکلے موبائل ايپلي کېشن د اَوقاتُ الصَّلاة (Prayer Times) په نوم جاري کړے دے ❁ دا ايپلي کېشن د اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تحقيق مطابق دے، په دې ايپلي کېشن کښې ❁ د 5 واړو نـمونځونو د روزانه او مياشتې وختونه ❁ د قرآنِ پاک تِلاوت او د قرآنِ کريم تفسير ❁ د اهلِ سُنَّت د عقيدو په باره کښې اهم سوالونه او جوابونه ❁ 6 مختلفې ژبې ❁ د ټولې دُنيا د هر ځائے وختونه او د قبلې اړخ شامل کړے شوي دي ❁ دا ايپلي کېشن د قضا نـمونځونو په جائزه اخستو او د هغې په وخت ادا کولو کښې مرسته کوي ❁ د جَمعې په وخت د آټو موبائل سائلنټ ساتلو آپشن موجود دے په

---

[1]... بخاری، کتاب بدء الایمان، باب فضل من استبراء لدینه، صفحه:84، حدیث:52۔

کوم کښې چې د جَمعې د وخت په درج کولو موبائل په آټو سائلنټ باندې لګېدے شي ❁ هجري کلېنډر او د اِسلامي ورځو په باره کښې معلومات ❁ د نـمونځ ذِکرونه او رُوحاني عِلاج (د ذِکرونو کولو د پاره تسبیح کاؤنټر هم موجود دے) ❁ د نـمونځونو حُکمونه او اِسلامي پوسټونه ❁ حنفي یا شافعي د نـمونځونو وختونه ❁ د هر نـمونځ د شروع کېدو وخت او د ختمېدو وخت (**Notification**) مېلاؤېدے شي ❁ دا ایپلي کېشن به د **GPS** په ذریعه ستاسو موجوده ځائے پخپله آټو اپډېټ کړي ❁ تاسو د خپلې خوښې ځائے سیټ کولے شئ او د انټرنېټ کنکشن نه بغېر هم دا دوباره اِستعمالولے شئ ❁ د (**Prayer Times**) ایپلي کېشن لنک د فېس بک، ټوېټر، واټس اېپ او مختلف سوشل مېډیا پلېټ فارمز په ذریعه د خپلو ملګرو سره شیئر کېدے شي۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د بیان په اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

صحیح څۀ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

مسئله: په سجده کښې د پوزې هډوکے او تندے جُخت لګول ضروري دي۔

وضاحت: دا عام طور لیدلے شوي دي چې خلق په سجده کښې تندے خو لګوي خو پوزه یې اوچته وي او ځینې خلق د پوزې صرف سر لګوي، هډوکے یې نۀ لګوي۔ یاد ساتئ چې په سجده کښې پوزه دومره کلکه لګول چې سخت هډوکے په زمکه ولګي، دا واجِب دي۔ داسې نن سبا چې څنګه په پاکستان کښې د یخنۍ موسم شروع کېدونکے دے، عام طور په جوماتونو کښې غټ قالېن، بیا د هغې نه لاندې فوم غوړولے شي۔ په دې فوم والا قالېنونو باندې په سجده کولو کښې ډېر د اِحتیاط ضرورت وي، شرعي مسئله دا ده چې که په سجده کښې د تندي هډوکے پوره وه نۀ لګي نو نـمونځ هډو کېږي نۀ او که

چرې د پوزې هډوکے پوره وه نۀ لګي نو نـمونځ به مکروهِ تحريمي، واجِبُ الاِعَاده وي، يعني د داسې نـمونځ بيا راګرځول واجِب دي- لهذا چې پۀ فوم باندې سجده کوئ، پۀ قالبن باندې کوئ، پۀ ډېر غټ جائے نماز باندې سجده کوئ نو ډېر پۀ اِحتياط سره تندے او پوزه ښه جُخت لګوئ د دې پورې چې د زمکې سختي محسوس شي- [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

يَالَطِيفُ

پۀ غېر مکروه وخت کښې دوه رکعته نفل اوکړئ او د سلام ګرځولو نه پس يَالَطِيفُ 182 کرته (پۀ اول او پۀ اخره کښې يو ځل دُرُود شريف) ولولئ او د جائز او اساني نوکرۍ يا د حلال روزګار مېلاؤپدو د پاره دُعا اوکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه اَلْكَرِيم! دُعا به قبوله شي- [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... دار الافتاء اہلسنت، ریفرینس نمبر:Lar:10648۔

[2] ... چڑیا اور اندھا سانپ، صفحہ:28۔